$$f'(x)=\frac{1}{2\sqrt{x}} \qquad g'(x)=\frac{\sqrt{x^3}}{2}$$

$$f''(x)=-\frac{1}{4\sqrt{x^3}} \qquad g''=\frac{3}{4\sqrt{x}}$$

دویم مشتقونه د $x\in R^+$ لپاره تعریف دي.

په دې ساحه کې $f''(x) < 0$ دی. اړونده ګراف ښی کوږوالی یا انحنا لري، دا یو شی لور ته واز پارابول ښایي.

په همدې ساحه کې $f''(x) < 0$ دی. اړونده ګراف کیڼ کوږ دی یا کینه انحنا لري. اړونده ګراف یو کیڼ کوږوالی یا کینه انحنا لري، دا پورته لور ته واز پارابول دی.

## د انعطاف ټکي(اوړونټکي)

یادونه: ولې اوړونټکی؟

وبه ګورو، چې په دې ټکي کې ګراف خپله لور اړوي، نو ......

موږ له پورته څېړې اټکل کولی شو چی : که د $x_0$ ځاي کی دا لاندې ولرو

$f''(x)=0$ او

$f'''(x)>0$، نو یو ښی-کیڼ- انعطاف ټکی (اوړونټکی) مو مخ ته پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

برعکس(په ځټ):

که وي: $f''(x)=0$ او $f'''(x)<0$ نو یو کیڼ - ښی- د انعطاف ټکی مو مخ ته پروت دی.

د ا نعطافټکي لپاره خوی ټاکونکی دی، چی $f''(x)=0$ وي ، داچی دا ښی -کیڼ - او که کیڼ- ښی – انعطاف ټکی( اوړونټکي) دی، د $f''(x)$ مخ نښه یی ټاکي.

-شرایط $f''(x)=0$ د انعطاف ټکي لپاره یواځی اړیین یاضروري دي.

د $y=x^4$ لپاره $f''(0)=0$ دی، مګر اوړونټکی مو مخ ته نه دی پروت.

–شرایط $f''(x_0)=0$ او $f'''(x_0)\neq 0$ د انعطافټکي لپاره پوره کیدونکي دي. ګورو چی $y=f(x)=x^5$ تابع د $x=x_0=0$ ځاي کی یو انعطافټکی لري او باوري دي:

$$f'(x)=5x^4 \quad , \quad f'(0)=0$$

$$f''(x)=20x^3 \quad , \quad f''(0)=0$$

$$f'''(x)=60x^2 \quad , \quad f'''(x)=0$$

ګورو چي دریم مشتق $f'''(x)$ نه له صفرڅخه کوچنی او نه لوي دی.

ترمخ راوړني او د کلمې روښانه وني:

د دې کلمې د لا نورې روښانه کولو لپاره په لاندې توګه مخ ته ځو:

<table>
<tr>
<td>د بایسکل ځغاستي چې له A څخه ځغلي د منحنی څخه تېرېږي او B ته رسېږي. د همغه وخت د بایسکل ځغاستي د اندل حالت د ځغاستي په وخت کې په پام کې ولرئ. د کینې منحني( د کیڼ لورې د اندل حالت) څخه وروسته د ښۍ لورې منحني کې ځغلي.</td>
<td>
</td>
</tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

**د کيڼي- او ښی منحني(کږې) ترمنځ  بايد د بايسکل انډل سيده ولاړ وي(عمود وي)، چې دا د انډل بدلون دی له کيڼي لورې و ښی لورې ته. دا د کيڼي او ښی منحني ترمنځ اوړيدنه ياد** **انعطاف ټکی** **بلل کيږي.**

| | |
|---|---|
| **تاسو له بايسکل سره په يوه غونډۍ ځغلی. وروسته له هغې، چې له تالي څخه تيرېږي، نو لار په جګېدو پيل کوي. په لومړي سر کې نرم او بيا په نيغه جګيږي،  بيا په دې پسې جګوالی ببرته کميږي، چې پاس د غونډۍ په څوکه صفر ارزښت غوره کړي. يو ځېرته په غونډۍپورته صفرارزښت ته رسيږي. يو ځېرته په لار جګېدنه خورا لويه وه. هلته د انعطاف ټکی پروت دی.** |  |
| د بايکل ځغلونکي بل حالت، چې له څنګ دياګرام څخه يې رانيسو:<br><br>په غره  د بايسکل ځغاستميل ياجګېدنه لومړی کميږي، چې له سره ببرته جګه شي.<br><br>ددې ترمنځ يوه ساحه شته، د کم جګوالي سره ( يوه نسبتآهواره)." دې نسبتآ هوار ځای کې د توته کرښې جګېدنه نسبت بل ځای ته کمه ده.  هلته اوړونټکی(د انعطاف ټکی) پروت دی. | <br>له کيڼ و ښي لور ته: جګيدنه کميږي، هواره ، جګيدنه زياتيږي |

پوهيږو، چې د يوې تابع لومړی مشتق د تابع د جګوالی تابع  دی، چې له ګراف څخه يې جګوالی لوستل کيږي.دا چې د انعطاف ټکی خورا لوي يا خورا کوچنی ټکی کېدی شي، داسې پيدا کيږي، چې د مشتق تابع انحرافي ارزښتونه پيدا کړو.

دا تلنلار  همهغسې ده، لکه د پيل تابع **f(x)** لپاره مو ټاکلې. اوس د مشتق تابع **f'(x)**  باندې دا کار يا  عمل اجرا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

مخکی له دې چی يو لړ جملی د بحراني(جګ – ټيټ -) ارزښتونو او د انعطاف ټکو په هکله څيړو، غواړو چی دا کليمی تعريف کړو .

دواړه کلمي به د نسبي بحراني ټکي په بڼه کی سره را غونډي شي.

پيژند ۲۰ . ۶ : په يوه چاپيريال x = x0 کی مشتقوړ تابع y = f ( x) يو کيڼ- ښی- انعطافټکی په همدې ډول ښی- کيڼ- انعطافټکی لري، که د هغه مشتق هلته يو نسبي جګټکی(عظمي نقطه) په همدې توګه يو نسبي ټيټ ټکی ولري.

جمله ۲۰ . ۱۱ : ( د يوه نسبي افراطي ټکي لپاره ضروري شرايط):

که په x0 کی مشتقوړ تابع y = f ( x) اکستريموم لرې نو لرو: f ' ( x ) = 0

دا جمله موږ ته وايي ( يادونه ۲دي پرتله شي): چيرته چی f ' ( x ) ≠ 0 وي نو هلته بحراني ټکی نه شته، د بحراني ټکولپاره يواځي د x0 ځاي په پوښتنه کی راځي، چی د هغي لپاره f ' ( x ) = 0 وي ، خو حمتي نه ده چی y = f ( x )دې يوبحراني ټکی ولري.

د پورته جملی استعمال په y′ = f' ( x) څخه لاندې جمله لاس ته راځي:

جمله ۲ . ۱۲ : ( د اوړونټکي(انعطاف ټکي) لپاره اړيين شرايط):

که په x = x0 کی دوه واره مشتق وړ تابع y = f ( x) هلته يو انعطاف ټکی ولري، نو لاس ته ترې راځي:

دلته هم باور لري ( يادونه ۴ دې پرتله شي): چيرته چی $f''(x) \neq 0$ وي ، نو هلته نه شي کيدی چي اوړونټکي موجود وي. مګرچيرته چی f '' ( x ) = 0 وي ، اوړونټکی شته کيدلی شي، خو اړيين يا ضرور نه ده چی هلته انعطاف ټکی شته وي.

له پورته څخه لاندې جمله لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

جمله ۲۰ ، ۱۳:

( د اوړونټکي يا انعطافټکي لپاره پوره کيدونکی شرطونه )که په x = x0 کی درپوار مشتقوړ تابع y = f ( x ) لپاره وي:

$f''(x) = 0$ , او $f'''(x) \neq 0$

نو هلته يو انعطاف ټکی مخ ته لرو. که $f'''(x) < 0$ وي، نو يو کيڼ- ښي – انعطاف ټکي مخ ته پروت دی او د $f'''(x) > 0$ لپاره يو ښی-کيڼ-انعطاف ټکی مخ ته لرو.

شننيزه يا تحليلي بيلګه:

يادونه: موږ د $x_E$ سره افراطي ټکی په نښه کوو او د $x_W$ سره د انعطاف – يا اوړون ټکی په نښه کوو.

1- تابع مساوات د مشتق سره

$$f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + 4x^2 - 4x - 4$$

$$f'(x) = -2x^2 + 8x - 4$$

$$f''(x) = -4x + 8$$

$$f'''(x) = -4$$

$$f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + 4x^2 - 4x - 4$$




$$f(2) = -\frac{4}{3}$$

$$P_W\left(2 \mid -\frac{4}{3}\right)$$

2- دويم مشتق صفر کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f''(x) = 0 \Leftrightarrow -4x + 8 = 0$

$\Rightarrow x_W = 2$

f '(x) = -2x² + 8x - 4

Extremwert von f '(x)
bei $x_W = 2$




د الماني پښتو: د f‘(x) صفرځای په xw=2 کې

3- د انعطاف ټکي له مخې ښوونه، چې ایا د انعطاف ټکی شته دی؟

$f'''(x_W) = f'''(2) = -4$

4- په $f(x)$ د انعطاف ځایونه ځای په ځای کولو له لارې د انعطاف ټکي ټاکنه

$f(x_W) = f(2) =$

$-\frac{2}{3}(2)^3 + 4(2)^2 - 4(2) - 4 = -\frac{4}{3}$

$\Rightarrow P_{W\left(2 \mid -\frac{4}{3}\right)}$

$P_W(2 \mid -1.33)$

f "(x) = -4x + 8

Nullstelle von f " (x)
bei $x_W = 2$




د الماني پښو: د f‘‘(x) ضفرځای په $x_W$ =2 کې

پام: په انعطاف ځای $x_W$ کې د $f(x)$ ګراف کږیږي.

په یوه په خوښه ټکي $x_0$ کې د کږوني(انحنا) لپاره باور لري:

$f''(x) > 0$ په دې معني دی،چې $f(x)$ کیڼ لور ته کږیږي( انحنا لري) دی.

$f''(x) < 0$ په دې معنی، چې تابع $f(x)$ ګراف ښې لور ته کږیږي(انحنا کوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو زینتکی Der Sattelpunkt څه شی دی؟




پیژند:

د زینتکي( کله کله برنډې تکی هم بلل کیږي)لاندې د انعطافتکي ځانګړی حالت پوهیږو، داسې انعطافتکی چې تانجنت یې افقي (پروت) وي:




د پرتلې لپاره دې بیا یو ،،عادي،، انعطافتکی ورکړ شوی وي.دا یو مائل( نه افقي) تانجنت لري




توضیح:

اوس فکر کوو، چې یو زینتکی څنګه د شمېرلو له مخې پیژندل کېدی شي. په دې برخه کې په ځانګړې توګه دا مخ ته لرو، چې یو زینتکی له ښي – و کینه انحنا و شمېرو.

د دې لپاره د $f(x)$ تابع جګوالی په پام کې نیسو، یعنې لومړی مشتق: د زینتکي د مخه د $f(x)$ جګوالي کمیږي، په زینتکي کې صفر ارزښت لري، او له زینتکي څخه وروسته بېرته جګیږي.

یو زینتکی (د ښي – کیڼ – بدلون سره) په دې پیژندل کیږي، چې لومړی مشتق $f'(x)$ یې هلته صفر شي او سربېره پر دې هلته یو نسبي ټیټتکی ( مینیموم) ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---




د لومړي مشتق $f'(x)$ شکل داسې بربېني:

لومړی شرط دی، چې مشتق يعنې $f'(x)$ په زينټکي کې د صفر سره مساوي دی.

زينټکی(ښی-کيڼ-بدلون) $f'(x_0)=0$

دوم شرط دی، چې مشتق $f'(x)$ هلته يو نسبي مينيموم لري.

دا په دې معنادی، چې بل جګ مشتق $f''(x)$ بايد په صفر مساوي وي او مخنښه له منفي و مثبت ته بدلېږي.

له دې سره سم د زينټکي لپاره پوره کيدونکي قضيه وميندل شوه:

د زينټکي لپاره جمله( خوي تاکنه)( د ښي –کيڼ- انعطاف سره)

الف:د $x_0$ ځا کې لومړی مشتق $f'(x)$ صفر دی: $f'(x_0)=0$

ب : د $x_0$ په ځا ي کې لومړی مشتق $f'(x_0)$ يو مينيموم لري، دا په دې معنا، چې دوم مشتق صفر دی، يعني $f''(x)=0$ دوم مشتق مخنښه له منفي ځخه و مثبت ته بدلوي.

بل بديل( د ګرانو دوستانو وړانديز)

| | |
|---|---|
|  | زينټکی:<br>د انعطاف ټکي يو ځانګړی حالت زينټکی دی. دا د انعطاف ټکی دیَ د صفر جګيدنې سره.که د کيڼ لور ورتزدې شو فکر کيږي، چې، نسبي جګټکی مو مخ ته پروت دی<br>که ځوک د ښي لور ور نزدې شي فکر کوي، چې يو نسبي ټيټکی مخ ته لرو.<br>اوس دا حالت د رياضياتو له لوري ځيرو: |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| $f(x)=x^3-3x^2+3x+1$<br>$f'(x)=3x^2-6x+3$<br>$f''(x)=6x-6$<br>$f'''(x)=6$ | مشتق: |

$$f'(x)=0 \iff 3x^2-6x+3=0 \Rightarrow x_{1/2}=1$$

| | | |
|---|---|---|
| $=>1$ د $x=1$ سره زینتکی | $=>1$ د $x=1$ سره د انعطاف ټکی | $f''(1)=6\cdot1-6=0$<br>$f'''(1)=6$ |

د انعطاف ټکي لپاره شرایط پوره دي.
دا چې د $f''(1)=0$ له امله د انعطاف ټکی مخ ته لرو، نو دا د انعطاف ټکی همغه زینتکی دی.
د انعطاف ټکي پیداکونه:
د تابع ګراف باندې انعطاف ټکي کې تانجنت د انعطاف تانجنت بلل کیږي. د انعطاف تانجنت هم
همداسې پیدا کیږي لکه د تابع دګراف په یوه ټکي کې تانجنت، چې تانجنت مساوات تاکل کیږي.

$$f(x)=\frac{1}{4}x^3-3x^2+9x-2$$

$$f'(x)=\frac{3}{4}x^2-6x+9$$

$$f''(x)\frac{3}{2}x-6 \qquad f'''(x)=\frac{3}{2}$$

$$f''(x_W)=0 \iff \frac{3}{2}x-6=0$$

د $x_W=4$ او $f'''(x_W)=\frac{3}{2}\neq0$ د

تانجنت $f(x_W)=f(4)=2 \Rightarrow \underline{P_W(4|2)}$

مساوات لپاره باور لري.
د $x_W$ لپاره د تانجنت مساوات

$$t(x)=f'(x_W)(x-x_W)+f(x_W)$$




د انعطاف تانجنت د $f(x)$ ګراف د انعطاف په ټکي $P_W(4,2)$ کې غوځوي او دا لاندې مساوات لري:

$$t(x)=-3x+14$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د $f'(x_W) = f'(4) = -3$<br>سره په لاندې ډول دي<br>$t(x) = -x(x+4) + 2 = \underline{\underline{-3x+14}}$ | |

د انعطاف- یا وړون ټکي تانجنت پیداکونه:

په انعطاف ټکي کې د تابع دګراف تانجنت د انعطاف تانجنت بلل کیږي.
د انعطاف تانجنت مساوات همداسې ټاکل کیږي، لکه د تانجنت مساوات د ګراف په خوښه ټکي باندې.

داسي حالتونه، لکه $f'(x) = f''(x) = f'''(x) = 0$ دلته تر څیړنی لاندې نه نیول کیږي.

## د کږې یا منحني بحث (Kurven Diskusion) :

تر مخ راوړنه او د کلمې روښانه ونه:

د دې لپاره چې د یوې تابع وکاړلی او تشریح کړای شو، اړین دی چې د ګراف په ځنې په راوتلو یا غوره ټمو او د ګراف په تلنه وپوهیږو.\

داسې د ګراف په غوره خوبیز یا کرکتریستیکي خویونو باندې د پوهیدنې او څیړنې ته د کږو یا منحنیو خبرې اترې یا بحث وایو.

د دې لپاره چې د تابع کوم غوره خوي مو له یاده ونه ووځي یا راڅخهپاتې نه شي، نو د داسې څیړنو لپاره سړی باید سیومتریک مخ ته ولاړ شي او هم تل د څیړنو او شمیرنو د لړۍ پرلپسې یا لړې ترتیب په پام کې ونیسي.

په لاندې ډول تلنلار ډېره ګټوره ګڼل شوې

لومړی: تعریفورشو یا ـــساحه:

سړی له هر څه د مخه د فنکشن یا تابع تعریفورشو ټاکي، ځکه چې فقط د دې ورشو په دننه کې موخه ور دی چې تابع خویونو څیړنه مخ ته بوزو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دویم: سیومتري:

سرې کره کوي، چې ایا تابع محوري- اوټکی سیومتری دی.

محورسیمتري سره باور لري: f(-x)=f(x) په دواړو حالتونو کې فنکشن باید وڅیړل شي.

د ټکي سیومري سره باورل ري: f(-x)=-f(x) فقط باید د $x \geq 0$ لپاره وڅیړل شي.

په ځنګړې توګه د ټول راشنل یا –خوښیار توابعو لپاره باور لري:

یو ټول راشنل تابع ټیک هلته محور سیمتریک دی، که د هغه ترمونه زاتیدوني یا د جمعي اعظاوې فقط د جوړه یا جفت جګ عدد یا اکسپوننت سره ولري.

یو ټول راشنل تابع ټیک هلته ټکی سیمتریک دی، که د هغه ترمونه نا جوړه یا طاق د زیاتیدوني یا د جمعې غړي ولري.

دریم: افراطیت:

د نسبي افراطیت ټاکنې، دا سرې جګ – همداسې ټیټ ټکي بولي.

دا د پراته یا افقي تانجنت سره ټکي هم دي.

| | |
|---|---|
| ټیټ ټکی= نسبي مینیموم<br>پوره کیدونکي شرطونه:<br>$f'(x_1) = 0 \quad \wedge \quad f''(x_1) > 0$ | جګ ټکی = نسبي ماکسیموم<br>پوره کیدونکي شرطونه:<br>$f'(x_1) = 0 \quad \wedge \quad f''(x_1) < 0$ |

څلورم: اوړونټکی(نقطه انعطاف):

د اوړنټکي همداسې زین ټکي ټاکنه.

د اوړنټکي لپاره پوره کیدونکي شرطونه: $f''(x_w) = 0 \quad \wedge \quad f'''(x_w) \neq 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

زینټکی ( همغه د اس زین څخه دا نوم رانیول شوی)اوړنټکی دی د پراته تانجنت سره.

پنځم: محورغوڅټکي( د محور د تقاطع نقاط):

که د x -محور ارزښت صفر ( x = 0 ) د f(x) په فنکشن ارزښت کې کیښول شي، نو سړی د y –محور سره غوڅټکی( نقطه تقاطع) لاس ته راوړي.

د y - محور سره غوڅټکی $P_y(0 \mid y_s) \Rightarrow f(0)$ وټاکی.

د x- محور سره غوڅټکی( صفرځای) $P_{xi}(x_i \mid 0) \Rightarrow f(x) = 0$

شپږم: ګراف:

دا تراوسه د ټولو راټول شوو معلوماتو سره اوس کیدی شي په زیاتو حالتونو کې ګراف انځورکړای شو.

د دې لپاره لومړی یو ارزښت جدول چمتو کیږي.

دا په ګوته کوي، چې نور کوم ارزښتونه دې وشمیرل شي.

دا کیدی شي چې د جبشمیرونو سره شومیرل شي او د یا د ټولګڼونو یا تام اعدادو x - ارزښتونو لپاره د هورنر شیماپه مرسته.

اوم: کږوالي ځاننیونه(حالت) او یوغږیزوالی.

په اوړونوټکي یا انعطافټکي $x_W$ کې د f د ګراف کږوالی تغیر خوري.

د په خوښه ټکي x0 کې د کږوالي لپاره باور ري:

$f''(x0) > 0$ په دې معنا، چې د f(x) ګراف کیڼ کوږ(ننوتی یا مقعر؟؟ ) دی.

$f''(x0) < 0$ په دې معنا، چې د(x)f ګراف ښي کوږ( وتلی یا محدب ) دی:

یوعږیزوالی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ . که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x0) \geq 0$ وي، نو f(x) يوغړيز جګيدونکی دی په انتروال I کې

که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x0) \leq 0$ وي، نو f(x) يوغړيز ټيټيدونکی دی په انتروال I کې.

۲ . که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x0) > 0$ وي، نو f(x) کره يا په کلکه يوغړيز

جګيدونکی دی په انتروال I کې

که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x0) < 0$ وي، نو f(x) کره يا په کلکه يوغړيز

ټيټيدونکی دی په انتروال I کې.

لنډ:په اوړونټکي کې د يوه ګراف د کږوالي حالت تغير خوري

د يوغړيزوالي حالت په افراطي ټکو کې تغير خوري

اتم: د تعريفورشو ژی ټکي:

د تعريفورشو په ژی ټکو کې د فنکشن څيړنه.

که تعريفورشو محدوه يا رابنده نه وي، نو دواړه پوله ا رزښتونه

$$\lim_{x\to\infty} f(x) \quad \text{او} \quad \lim_{x\to-\infty} f(x)$$

دې وټاکل شي.

په ډول وييته يا افاده: د لوی x - ارزښت لپاره سړی د فنکشن ارزښتونو تلنه په زيا تيز يا مثبت لور او هم په کميزه يا منفي لور څيړي او دا پوښتنه له ځانه کوي، چې فنکشن ارزښتونه په کومه لور څغلي.

د يوه مفصل کږو بحث خبرې اترې يا بحث:

تعريفورشو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

تابعبرابرون يا تابع مسوات:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^4 - 2x^2 - \frac{9}{4} \Rightarrow$$

له دې لاس ته راځي تعريف ډېرۍ يا ـست $\underline{\underline{D_f = \mathbb{R}}}$ .

فنکشن د ټول حقيقي ارزښتونو لپاره تعريف دی. د ورسره بلده توګه ټول راشنل فنکشنونو دا تل باور لري، خو پرته له دې که څوک وغواړي تعريف ورشو رابنده يا محدود کړي.

سيومتري: دا چې ټول جګګېونه يا اکسپوننتونه جوړه يا جفت دي، نو يو محورسيومتري مخ ده لرو،

باور لري: $f(-x)=-f(x)$ د ټول $x€R$ لپاره.

ګټه په دې کې ده، چې فنکشن ارزښتونه بايد فقط د زياتيزو يا مثبت $x$ -ارزښتونو لپاره وشميرل شي.

افراطييت:

د افراطي ټکو شميرلو لپاره تلنلار:

سړی لومړی د f(x) لومړي دوه مشتقونه ټاکي.

د لومړي ومشتق صفرايينوونه د پراته تانجنت ځای راکوي.

که سړی دا ارزښتونه په دويم مشتق کې کيږدي، نو سړی د مخ ته پراته افراطيت په هکله وينا ترلاسه کوي.

( نسبي مامسيموم يا نسبي مينيموم همداسي د افراطي ټکو نه والی).

د افراطي ځايونو $x_i$ ازښتونه که فنکشن مساوات کې کيښول شي افراطي ارزښتونه راکوي او له دې سره د افراطي ټکو کواوردينااتونه يا پراته ولاړارزښتونه څرګند دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

تابعبرابرون یا ـمساوات: $f(x) = \frac{1}{4}x^4 - 2x^2 - \frac{9}{4}$

مشتقونه: $f'(x) = x^3 - 4x \quad f''(x) = 3x^2 - 4 \quad f'''(x) = 6x$

د افراطي ارزښتون لپاره پوره کيد ونکي شرطونه.

$$f'(x) = 0 \wedge f''(x) \neq 0$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow x^3 - 4x = 0$$

xله نوکانو وباسئ

$$\Leftrightarrow x(x^2 - 4) = 0 |$$

د صفرضرب جمله له دې لاس ته راځي $x1=0$ همداسې $x^2-4=0$

$$x^2 - 4 = 0 | +4$$
$$\Leftrightarrow x^2 = 4 | \sqrt{}$$
$$\Leftrightarrow |x| = 2 \Rightarrow x_2 = 2 \text{ bzw. } x_3 = -2$$

د پراته تانجنت ځايونه: $\boxed{x_1 = 0}; \boxed{x_2 = 2}; \boxed{x_3 = -2}$

د نسبي ماکسيموم همداسې نسبي مينيموم ښوونه:

$$f''(x_1) = f''(0) = 3 \cdot 0^2 - 4 = -4 < 0 \Rightarrow \text{rel. Max. für } x_1 = \boxed{x_{E1} = 0 \text{ (Hochpunkt)}}$$
$$f''(x_2) = f''(2) = 3 \cdot 2^2 - 4 = 8 > 0 \Rightarrow \text{rel. Min. für } x_2 = \boxed{x_{E2} = 2 \text{ (Tiefpunkt)}}$$
$$f''(x_3) = f''(-2) = 3 \cdot (-2)^2 - 4 = 8 > 0 \Rightarrow \text{rel. Min. für } x_3 = \boxed{x_{E3} = -2 \text{ (Tiefpunkt)}}$$

افراطي ارزښتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $x_{E1} = 0$ لپاره جګ ټکی

$$f(0) = -\frac{9}{4} = -2,25$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{Max}\left(0 \middle| -\frac{9}{4}\right) \text{ bzw. } P_{Max}(0|-2,25)}$$

د $x_{E2} = 2$: لپاره ټیټټکی

$$f(2) = \frac{1}{4}\cdot 2^4 - 2\cdot 2^2 - \frac{9}{4} = -\frac{25}{4} = -6,25$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{Min1}\left(2 \middle| -\frac{25}{4}\right) \text{ bzw. } P_{Min1}(2|-6,25)}$$

د $x_{E2} = -2$: لپاره ټیټټکي

د محور سیومتري له امله $f(-2) = f(2) = -\frac{25}{4} = -6,25$

$$\Rightarrow \boxed{P_{Min2}\left(-2 \middle| -\frac{25}{4}\right) \text{ bzw. } P_{Min2}(-2|-6,25)}$$

اوړنټکي یا د ا نعطاف ټکي:

د انعطاف ټکو ټاکلو لپاره د شمیرنې تلنلار:
د لومړیو دوه مشتقونو برسیره سرړی د f(x) دریم مشتق جوړوي یا نیسي.

د دویم مشتق ضفرځایونه ممکنه اوړونټکي دي.
د افراطي ټکو مخ ته پرېوتني یا لرنې ازماېښت لپاره د دویم مشتق شمیرل شوی صفرځای په دریم مشتق کې ایښوول کیږي.

که لاس ته راوړنه د صفر سره برابره نه وي، نو اړونده x - ارزښتونه یو اوړنټکی په ګوته کوي. ځکه چې دا اړونده فنکشن ارزښتونه د x – ارزښتونو د تابع مساوات f(x) ترم کې ایښوولو له لارې لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

تابع مساوات: $f(x) = \frac{1}{4}x^4 - 2x^2 - \frac{9}{4}$

مشتقونه: $f'(x) = x^3 - 4x \quad f''(x) = 3x^2 - 4 \quad f'''(x) = 6x$

د اوړونټکو لپاره پوره کيدونکي شرطونه:

$$f''(x) = 0 \wedge f'''(x) \neq 0$$

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow 3x^2 - 4 = 0 \,|\, +4$$

$$\Leftrightarrow 3x^2 = 4 \,|\, :3$$

$$\Leftrightarrow x^2 = \frac{4}{3} \,|\, \sqrt{\ }$$

$$\Leftrightarrow |x| = \sqrt{\frac{4}{3}} \Rightarrow x_1 = \sqrt{\frac{4}{3}} \text{ bzw. } x_2 = -\sqrt{\frac{4}{3}}$$

ممکنه اوړونټکي: $\boxed{x_{W1} = \sqrt{\frac{4}{3}}}$ ; $\boxed{x_{W2} = -\sqrt{\frac{4}{3}}}$

په اوړونټکو ښوونه:

$$f'''(x_{W1}) = f'''\left(\sqrt{\frac{4}{3}}\right) = 6 \cdot \sqrt{\frac{4}{3}} \neq 0; f'''(x_{W2}) = f'''\left(-\sqrt{\frac{4}{3}}\right) = 6 \cdot \left(-\sqrt{\frac{4}{3}}\right) \neq 0$$

د $x_{W1} = \sqrt{\frac{4}{3}}$ لپاره اوړونټکی

$$f(x_{W1}) = f\left(\sqrt{\frac{4}{3}}\right) = \frac{1}{4} \cdot \left(\sqrt{\frac{4}{3}}\right)^4 - 2 \cdot \left(\sqrt{\frac{4}{3}}\right)^2 - \frac{9}{4} = -\frac{161}{36}$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{W1}\left(\sqrt{\frac{4}{3}} \,\middle|\, -\frac{161}{36}\right) \text{ bzw. } P_{W1}(1{,}15 \,|\, -4{,}47)}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د $x_{W2} = -\sqrt{\frac{4}{3}}$ لپاره اوړونتکی

$$f(x_{W2}) = f\left(-\sqrt{\frac{4}{3}}\right) = f\left(\sqrt{\frac{4}{3}}\right) = -\frac{161}{36}$$

د محور سیومتري لهامله

$$\Rightarrow \boxed{P_{W2}\left(-\sqrt{\frac{4}{3}} \mid -\frac{161}{36}\right) \text{ bzw. } P_{W1}(-1,15 \mid -4,47)}$$

پنځم: محورغوڅتکي یا نقاط تقاطع محور

الف- د y–محور سره غوڅتکي

$$f(0) = -\frac{9}{4} = -2,25 \Rightarrow \boxed{P_y(0 \mid -2,25)}$$

ب – د x–محور سره غوڅتکي(صفرځایونه)

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{4}x^4 - 2x^2 - \frac{9}{4} = 0 \mid \cdot 4$$

$$\Leftrightarrow x^4 - 8x^2 - 9 = 0 \mid \text{Substitution } x^2 = z$$

$$\Leftrightarrow z^2 - 8z - 9 = 0$$

په z کې مربع مساوات

$$\Rightarrow p = -8\,;\, q = -9\,;\, D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = \left(-\frac{8}{2}\right)^2 + 9 = 25$$

$$\Rightarrow z_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} = -\left(-\frac{8}{2}\right) \pm \sqrt{25} = 4 \pm 5 \Rightarrow z_1 = 9\,;\, z_2 = -1 < 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

(حل نه شته)

په ښت یا برعکس بدلون: $z_1 = x^2 = 9 \Rightarrow |x| = \sqrt{9} \Rightarrow x_1 = 3;\ x_2 = -3$

په $\boxed{P_{x2}(-3|0)}$; $\boxed{P_{x1}(3|0)}$ کي صفرځایونه

شپږم: ارزښت جدول:

ارزښت جدول د ورزیاتو ارزښتونو سره:

$$f(1) = \frac{1}{4} \cdot 1^4 - 2 \cdot 1^2 - \frac{9}{4} = -4;\ f(-1) = f(1) = -4$$

$$f(3,25) = \frac{1}{4} \cdot (3,25)^4 - 2 \cdot (3,25)^2 - \frac{9}{4} \approx 4,52;\ f(-3,25) = f(3,25) \approx 4,52$$

| | | $P_{x2}$ | $P_{Min2}$ | $P_{W2}$ | | $P_{Max} = P_y$ | | $P_{W1}$ | $P_{Min1}$ | P |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −3,25 | −3 | −2 | −1,15 | −1 | 0 | 1 | 1,15 | 2 | |
| f(x) | 4,52 | 0 | −6,25 | −4,47 | −4 | −2,25 | −4 | −4,47 | −6,25 | |




شپږم: تولګه:

محورغوښتکي

اکسترم ارزښتونه:

$P_{Min1}(2|-6,25);\ P_{Min2}(-2|-6,25)$

$P_{Max}(0|-2,25)$

اوړونتکي

$$P_{W1}\left(\sqrt{\frac{4}{3}}\,\middle|\,-\frac{161}{36}\right);\ P_{W2}\left(-\sqrt{\frac{4}{3}}\,\middle|\,-\frac{161}{36}\right)$$

مورغوښتکي

$P_y(0|-2,25);\ P_{x1}(3|0);\ P_{x2}(-3|0)$

د کږوالي یو غږیزوالی

ننوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | $\left]-\infty;-\sqrt{\frac{4}{3}}\right[$ und $\left]\sqrt{\frac{4}{3}};\infty\right[$ او<br>وتلی: $\left]-\sqrt{\frac{4}{3}};\sqrt{\frac{4}{3}}\right[$<br>کره یوغږیز یتیدونکی<br>$]-\infty;-2[$ und $]0;2[$<br>کره یوغږیز جګیدونکی<br>$]-2;0[$ und $]2;\infty[$<br>ژی تکي<br>$\lim_{x\to\pm\infty} f(x)=\infty$ |

اووم: کږوالي حالت او یوغږیزوالی:

کږوالی د $x0=-2$ لپاره ( کین له $P_{w2}$)

$$f''(-2)=3\cdot(-2)^2-4=8>0$$

د $\left]-\infty;-\sqrt{\frac{4}{3}}\right[$ لپاره کینکوږوالی(ننوتی)

د $x_0=0$ لپاره کوږوالی ( د $P_{w1}$ او $P_{w2}$ ترمنځ)

$f''(0)=-4<0$ ښی کوږوالی( وتلی) د $\left]-\sqrt{\frac{4}{3}};\sqrt{\frac{4}{3}}\right[$ لپاره.

د $x0=2$ لپاره کږوالی ( د $P_{w2}$ ښي لور ته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



f’’(2)=3.2²-4=x>0

کيڼ کوږوالی د $]\infty;\sqrt{\frac{4}{3}}[$ لپاره

کره يا په کلکه قوغږيز تيتيدونکی د $]-\infty;-2[$ لپاره

کره يوغږيزجګيدونکی د ]0;2-[ لپاره

کره يا په کلکه قوغږيز تيتيدونکی د ]0;2[ لپاره

کره يوغږيزجګيدونکی د $]2:\infty[$ لپاره

اتم: د تعريفورشو ژی ټکي:

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(\frac{1}{4}x^4-2x^2-\frac{9}{4}\right) = \lim_{x\to-\infty} x^4\left(\frac{1}{4}-\frac{2}{x^2}-\frac{9}{4x^4}\right)$$

$$= \lim_{x\to-\infty} x^4 \cdot \underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(\frac{1}{4}-\frac{2}{x^2}-\frac{9}{4x^4}\right)}_{\frac{1}{4}} = \frac{1}{4}\cdot\lim_{x\to-\infty} x^4 = \infty$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = \frac{1}{4}\cdot\lim_{x\to\infty} x^4 = \infty$$

$$\Rightarrow \boxed{\lim_{x\to\pm\infty} f(x) = \infty}$$

يوه تابع $y = x^3 + x^2 - 3$ لرو. د دې تابع شکل رسم کړئ او بيا په دې رسم کې د تابع افرطي ټکي او د انعطاف ټکي په نخښه کړئ، ربنانه کړئ، چې انحنا چيرته له کيڼې لور و ښی لورې ته او له ښی لورې و کيڼې لورې ته ده.

فعاليت:

- تناظر تعريف کړئ.
- لاندې توابع رسم کړئ، جګ ټکي، ټيټ ټکي او د انعطاف ټکي يې پيدا اکړئ.
- $x^3 + x$
- $3x^3 + x + 2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ددې لپاره چې یوه تابع رسم کړای شو، ساده ده که د تابع غوره ټکی و پیژنو. موږ دې بحث ته د منحني بحث وایو. موږ په دا ډول خبرو اترو کې باید سیستماتیک مخ ته لاړ شو.
په لاندې ډول تلنه ګټوره بلل شوې.

دتعریف ساحه: د تابع ځیرنه یواځې په همدې ورشو کې موخه وره ده.
تناظر **Symetry** : باید وټاکل شي، چې تابع محوري متناظر او که مرکزي متناظر ده.
د محوري تناظر لپاره باور لري: $f(-x) = f(x)$
د مرکزي تناطر لپاره باور لري. $f(-x) = -f(x)$
په پورته دواړو حالتونو کې دې فقط $x \geq 0$ وڅېړل شي.
په ټولیزه توګه که ټول ریل تابع په پام کې ونیسو، نو ګورو چې که توان(د پولینوم درجه)یې جفت(جوړه) وي، نو پولینوم محوري متناظر دی او که توان(د پولینوم درجه) طاق(ناجوړه) وي، نو پولینوم مرکزي متناظر دی.

بحراني ټکي **Extrema** : د نسبي بحراني ټکو ټاکل(جګټکی، ټیټټکی)
د جګټکی یا نسبي جګ ټکي پوره کیدونکي شرطونه:
$f'(x_1) = 0 \ \wedge \ f''(x_1) < 0$

**انعطافټکی یا اوړونټکی** : Inflection Point

د انعطافټکواو همداسې زینټکي ټاکلو له پاره پوره کیدونکي شرطونه:
$f''(x_W) = 0 \quad \wedge \quad f'''(x_W) \neq 0$
زینټکی انعطافټکی دی د افقي تانجنت سره.
د تابع تقاطع د $x$ او $y$ محوررونوسره( د محوررونِوغوڅټکی):
د $x-$ محور سره ِغوڅټکی: $P_{xi}(x_i \,|\, 0) \ \Rightarrow \ (x) = 0$
د $y$ محور سره غوڅټکی(صفرځای) ټاکي $P_y(0 \,|\, y_s) \ \Rightarrow \ f(0)$
دګراف انځورونه: د ټولو تراوسه راټولو شوو معلوماتو سره کړی شو، چې ګراف انځور کړو. ددې لپاره لومړی یو ارزښتجدول انځوریږي. دا راته په ګوته کوي، چې نور کوم ارزښتونه شمیرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د کږوالي - یا انحنا حالت او یوغږیزوالی:
د انعطاف په ټکي $X_w$ کې د $f(x)$ ګراف تغیر خوري.
په خوښه یوه ټکي $x_0$ کې د انحنا لپاره باور لري:
$f''(x_0) > 0$ په دې معنا، چې د $f(x)$ تابع ګراف کینه انحنا لري (کونوکس)
$f''(x_0) < 0$ په دې معنا، چې د $f(x)$ تابع ګراف ښی انحنا لري ( کونکاو)
یوغږیزوالی
1- که د ټولو $x \in I$ لپاره وي $f'(x) \geq 0$ ، نو $f(x)$ په انټروال I کې مونوتون جګیږي. که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x) \leq 0$ وي, نو $f(x)$ په انټروال I کې مونوتون ټیټیدونکی دی.
2- که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x) > 0$ وي، نو $f(x)$ تابع په انټروال I کې کره غښتلې مونوتون جګیدونکی ده.
که د ټولو $x \in I$ لپاره $f'(x) < 0$ وي، نو $f(x)$ تابع په انټروال I کې غښتلې مونوتون جګیدونکی ده.
د پیژند ورشو ژی ټکي:
د تابع ژی ټکي کتنه په پیژند ورشوکې. که پیژند ورشو نامحدوده وي، نو لیمیټ $\lim_{x\to-\infty} f(x)$ او $\lim_{x\to\infty} f(x)$ ټاکو.

بیلګه :
د $f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x - 2$ تابع رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشتق کونه:

$$y = f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x - 2$$
$$y' = f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$$
$$y'' = f''(x) = 6x - 12$$
$$y''' = f'''(x) = 6 \qquad D = IR$$

نسبي بحراني ټکي

$P_{min}(3|-2) \qquad P_{max}(1|2)$

انعطافټکی او تانجنت

$P_W(2|0) \qquad y = f_t(x) = -3x + 6$

صفرځايونه:

$P_{x1}(2|0) \quad P_{x2}(3.7|0)$

$P_{x3}(0.3|0)$ 　 د y−

محور سره غِوڅټکی(دقاطع):

$P_y(0|-2)$

$f(x) := x^3 - 6x^2 + 9x - 2 \qquad t(x) := -3x + 6$




يوغږيزوالی( مونوتوني ياجگ - ټيتوالی) په

$I_1 = \{x \mid -\infty < x \leq 1\}_{\mathbb{R}}$ کې

يوغږيز جگيږي. په

$I_3 = \{x \mid 3 \leq x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ کې

يوغږيز جگيږي.

د تابع حالت په $x \to -\infty$ او $x \to \infty$ کې

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty} x^3\left(1 - \frac{6}{x} + \frac{9}{x^2} - \frac{2}{x^3}\right) = -\infty$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty} x^3\left(1 - \frac{6}{x} + \frac{9}{x^2} - \frac{2}{x^3}\right) = \infty$$

سيومتري: نه لري

د کږوالي يا انحنا حالت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنی کږوالی یا انحنا(وتلی یا محدب) : $I_4 = \{x \mid -\infty < x < 2\}_{IR}$

کیڼ کږوالی یا انحنا ( مقعریت یا ننوتوالی) : $I_5 = \{x \mid 2 < x < \infty\}_{IR}$

بیلګه۱ : لومړی: تعریفورشو:

$$f(x) = -\frac{1}{3}x^3 + 4x \qquad \boxed{D = \mathbb{R}}$$

دویم: سیومتري:

ټکی سیومتریک؛ f(-x)=-f(x) ځکه چې فقط ناجوړه یا طاق جګعدد

دریم: افراطیت:

مشتق:

$$f(x) = -\frac{1}{3}x^3 + 4x \Rightarrow f'(x) = -x^2 + 4 \Rightarrow f''(x) = -2x \Rightarrow f'''(x) = -2$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -x^2 + 4 = 0 \Rightarrow x_1 = 2 \text{ bzw. } x_2 = -2$$

$$f''(x_1) = f''(2) = -4 < 0 \Rightarrow \text{rel Max für } x_1 = 2$$

$$f''(x_2) = f''(-2) = 4 > 0 \Rightarrow \text{rel Min für } x_2 = -2$$

$$f(x_1) = f(2) = \frac{16}{3} \Rightarrow \boxed{P_{Max}\left(2 \mid \frac{16}{3}\right)}$$

$$f(x_2) = f(-2) = -\frac{16}{3} \Rightarrow \boxed{P_{Min}\left(-2 \mid -\frac{16}{3}\right)}$$

څلورم: اوړنټکی یا نقطه انعطاف:

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow -2x = 0 \Rightarrow x_W = 0$$

$$f'''(x_W) = f'''(0) = -2 \neq 0$$

$$f(x_W) = f(0) = 0 \Rightarrow \boxed{P_W(0 \mid 0)}$$

پنځم: مخورغوڅټکی یا نقاط تقاطع محور:

$$f(0) = 0 \Rightarrow \boxed{P_y(0 \mid 0)}$$

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{3}x^3 + 4x = 0 \Leftrightarrow x\left(-\frac{1}{3}x^2 + 4\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$-\frac{1}{3}x^2+4=0 \Leftrightarrow x^2-12=0 \Rightarrow x_2=\sqrt{12} \text{ bzw. } x_3=-\sqrt{12}$$

ضفرځایونه: $\boxed{P_{x1}(0|0)}$; $\boxed{P_{x2}(\sqrt{12}|0)}$; $\boxed{P_{x3}(-\sqrt{12}|0)}$

شپږم: ارزښتجدول او ګراف:

$$f(-4)=5,3;\ f(4)=-5,3;\ f(-3)=-3;\ f(3)=3;\ f(-1)=-3,7;\ f(1)=3,7$$

| | | $P_{x3}$ | | $P_{Min}$ | | $P_y$ $P_W$ $P_{x1}$ | | $P_{Max}$ | | $P_{x2}$ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −4 | $-\sqrt{12}$ | −3 | −2 | −1 | 0 | 1 | 2 | 3 | $\sqrt{12}$ | 4 |
| f(x) | 5,3 | 0 | −3 | $-5,\bar{3}$ | −3,7 | 0 | 3,7 | $5,\bar{3}$ | 3 | 0 | −5,3 |




اووم: کږوالي حالت او يوغږيزوالی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د x0=-2 لپاره ( کيڼ له $P_w$ ) $f''(-2) > 0$ له دې لاس ته راځي کيڼ کوږوال( ننوتی يا کونوکس)$]-\infty;0[$

د x0=2 لپاره ( ښي له $P_w$ ) $f''(2) < 2$ له دې لاس ته راځي ښي کوږوالی(کونکاو يا وتلی) $]0;-\infty[$

يوغويزوالی:

د $]-\infty;0[$ لپاره کرهيوغږيز ټيټيدونکی يا لويدونکی

د $]0;-\infty[$ لپاره کره يوغږيز جګيدونکی

د $]2;\infty[$ لپاره کره يوغږيز ټيټيدونکی يا لويدونکی

اتم: د تعريفورشو ژۍ شرايط:

$$\left.\begin{aligned}
&\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{3}x^3+4x\right) = \lim_{x\to-\infty} x^3\left(-\frac{1}{3}+\frac{4}{x^2}\right)\\
&= \lim_{x\to-\infty} x^3 \cdot \underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{3}+\frac{4}{x^2}\right)}_{-\frac{1}{3}} = -\frac{1}{3}\cdot \lim_{x\to-\infty} x^3 = \infty\\
&\lim_{x\to\infty} f(x) = -\frac{1}{3}\cdot\lim_{x\to\infty} x^3 = -\infty
\end{aligned}\right\} \Rightarrow \boxed{\begin{aligned}&\lim_{x\to-\infty} f(x) = \infty\\ &\lim_{x\to\infty} f(x) = -\infty\end{aligned}}$$

بيلګه ۲ :

لومړی:

$$f(x) = \frac{1}{16}x^3 - \frac{3}{8}x^2 + 2 \qquad \boxed{D = \mathbb{R}}$$

دويم: سيمتري:

سيومتري نه شته.

دريم: افراطيت:

مشتق:

$$f(x) = f(x) = \frac{1}{16}x^3 - \frac{3}{8}x^2 + 2 \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{16}x^2 - \frac{3}{4}x \Rightarrow f''(x) = \frac{3}{8}x - \frac{3}{4} \Rightarrow f$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f(x) = f(x) = \frac{1}{16}x^3 - \frac{3}{8}x^2 + 2 \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{16}x^2 - \frac{3}{4}x \Rightarrow f''(x) = \frac{3}{8}x - \frac{3}{4} \Rightarrow$$

$$\Rightarrow f'''(x) =$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{3}{16}x^2 - \frac{3}{4}x = 0 \Leftrightarrow x\left(\frac{3}{16}x - \frac{3}{4}\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

$$\frac{3}{16}x - \frac{3}{4} = 0 \Rightarrow x_2 = 4$$

$$f''(x_1) = f''(0) = -\frac{3}{4} < 0 \Rightarrow \text{rel Max für } x_1 = 0$$

$$f''(x_2) = f''(4) = \frac{3}{4} > 0 \Rightarrow \text{rel Min für } x_2 = 4$$

$$f(x_1) = f(0) = 2 \Rightarrow \boxed{P_{Max}(0|2)}$$

$$f(x_2) = f(4) = 0 \Rightarrow \boxed{P_{Min}(4|0)}$$

څلورم:اوړنټکی یا نقطه انعطاف:

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{3}{8}x - \frac{3}{4} = 0 \Rightarrow x_W = 2$$

$$f'''(x_W) = f'''(2) = \frac{3}{8} \neq 0$$

$$f(x_W) = f(2) = 1 \Rightarrow \boxed{P_W(2|1)}$$

پنځم: محور غوڅتکي:

$$f(0) = 2 \Rightarrow \boxed{P_y(0|2)}$$

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{16}x^3 - \frac{3}{8}x^2 + 2 = 0$$

د $P_{min}$ شمیرنه په دې معنا وګورۍ لوړی صفرځای x1=4.
هورنر

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\begin{array}{l|cccc} & \frac{1}{16} & -\frac{3}{8} & 0 & 2 \\ x=4 & & \frac{4}{16} & -\frac{1}{2} & -2 \\ \hline & \frac{1}{16} & -\frac{1}{8} & -\frac{1}{2} & 0 \end{array} \Rightarrow \frac{1}{16}x^2 - \frac{1}{8}x - \frac{1}{2} = 0$$

$$\frac{1}{16}x^2 - \frac{1}{8}x - \frac{1}{2} = 0 \Leftrightarrow x^2 - 2x - 8 = 0 \Rightarrow x_2 = 4 ; x_3 = -2$$

صفرځایونه: $\boxed{P_{x1/2}(4|0)}$ ; $\boxed{P_{x3}(-2|0)}$

شپږم: ارزښتجدول او ګراف:

ارزښتجدوال:

$$f(-3) \approx -3{,}06 ; f(-1) \approx 1{,}56 ; f(1) \approx 1{,}67 ; f(3) \approx 0{,}31 ; f(5) \approx 0{,}44 ; f(6) = 2$$

| | | $P_{x3}$ | | $P_{Max}$ | | $P_W$ | | $P_{Min}$ $P_{x1/2}$ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −3 | −2 | −1 | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 |
| f(x) | −3,06 | 0 | 1,56 | 2 | 1,67 | 1 | 0,31 | 0 | 0,44 | 2 |

ګراف:



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اووم: ګږوالی(ننوتوالی یا مقعربیت) او یوغږیزوالی:
اووم: کږوالي حالت او یوغږیزوالی:
د x0=-2 لپاره ( کينږ له $P_W$ ) f''(0)=- ¾<0 له دې لاس ته راځي ښې کوږوال( ننوتی یا کونوکس)$]-\infty;2[$

د x0=2 لپاره ( ښي له $P_W$ ) f''(4) = ¾ > 0 له دې لاس ته راځي کيڼ کوږوالی(کونکاو یا وتلی) $]2;\infty[$
یوغویزوالی:
د $]-\infty;0[$ لپاره کره یوغږیز جګیدونکی
د $]0;4[$ لپاره کره یوغږیز ټیټیدونکی
د $]4;\infty[$ لپاره کره یوغږیز جګیدونکی

اتم: د تعریفورشو ژی شرایط؛

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(\frac{1}{16}x^3-\frac{3}{8}x^2+2\right) = \lim_{x\to-\infty} x^3\left(\frac{1}{16}-\frac{3}{8x}+\frac{2}{x^3}\right)$$
$$= \lim_{x\to-\infty} x^3\cdot\underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(\frac{1}{16}-\frac{3}{8x}+\frac{2}{x^3}\right)}_{\frac{1}{16}} = \frac{1}{16}\cdot\lim_{x\to-\infty}x^3 = -\infty$$
$$\lim_{x\to\infty} f(x) = \frac{1}{16}\cdot\lim_{x\to\infty}x^3 = \infty \quad \Rightarrow$$

$$\Rightarrow \boxed{\begin{array}{l}\lim_{x\to-\infty} f(x) = -\infty \\ \lim_{x\to\infty} f(x) = \infty\end{array}}$$

بیلګه ۳ :
لومړی: تعریفورشو:

$$f(x) = -\frac{1}{2}x(x+3)^3 = -\frac{1}{2}x^4-\frac{9}{2}x^3-\frac{27}{2}x^2-\frac{27}{2}x \qquad \boxed{D=\mathbb{R}}$$

دویم: سیمتري: سیوتتري نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: افراطیت: مشتق د صرب له لارې(قانون)

$$f(x) = \underbrace{-\frac{1}{2}x}_{u}\underbrace{(x+3)^3}_{v} \Rightarrow f'(x) = u'v + uv'$$

$$u = -\frac{1}{2}x\ ;\ v = (x+3)^3\ ;\ u' = -\frac{1}{2}\ ;\ v' = 3(x+3)^2$$

$$\Rightarrow \boxed{f'(x)} = -\frac{1}{2}(x+3)^3 - \frac{3}{2}x(x+3)^2 = \boxed{-\frac{1}{2}(x+3)^2(4x+3)}$$

$$f'(x) = \underbrace{-\frac{1}{2}(x+3)^2}_{u}\underbrace{(4x+3)}_{v} \Rightarrow f''(x) = u'v + uv'$$

$$u = -\frac{1}{2}(x+3)^2\ ;\ v = 4x+3\ ;\ u' = -(x+3)\ ;\ v' = 4$$

$$\Rightarrow \boxed{f''(x)} = -(x+3)(4x+3) - \frac{1}{2}(x+3)^2 \cdot 4 = \boxed{-3(x+3)(2x+3)}$$

$$f''(x) = \underbrace{-3(x+3)}_{u}\underbrace{(2x+3)}_{v} \Rightarrow f'''(x) = u'v + uv'$$

$$u = -3(x+3)\ ;\ v = 2x+3\ ;\ u' = -3\ ;\ v' = 2$$

$$\Rightarrow \boxed{f'''(x)} = -3(2x+3) - 3(x+3)\cdot 2 = \boxed{-(12x+27)}$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}(x+3)^2(4x+3) = 0 \Rightarrow x_{1/2} = -3\ ;\ x_3 = -\frac{3}{4}$$

$$f''(x_{1/2}) = f''(-3) = 0 \Rightarrow$$

د افراطیت په هکله وینا نه شته

$$f''(x_3) = f''\left(-\frac{3}{4}\right) = -3\left(-\frac{3}{4}+3\right)\left(2\cdot\left(-\frac{3}{4}\right)+3\right) = -\frac{81}{8} = -10,125 < 0$$

لاس ته راځي: د $x_3 = -\frac{3}{4}$ لپاره نسبي افراطیت

$x_{1/2} = -3$ د f'(x) دبل صفرځای دی، دا په دې معنا چې د f'(x) مخنخښې بدلون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

x=-3 په ځا کي نه شته. دا په دې معنا چې $x_{1/2} = -3$ دافراطي ځای نه دي.

$$f(x_3) = f\left(-\frac{3}{4}\right) = -\frac{1}{2}\cdot\left(-\frac{3}{4}\right)\left(-\frac{3}{4}+3\right)^3 = \frac{2187}{512} \approx 4,27$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{Max}\left(-\frac{3}{4} \middle| \frac{2187}{512}\right) \text{ bzw. } P_{Max}(-0,75 \mid 4,27)}$$

څلورم: اوړونټکي يا نقاط انعطاف: د لاندې الماني پښتو: اوړونټکی.

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow -3(x+3)(2x+3) = 0 \Rightarrow x_1 = -3;\ x_2 = -\frac{3}{2}$$

$$f'''(x_1) = f'''(-3) = -(12\cdot(-3)+27) \neq 0 \Rightarrow \text{Wendepunkt bei } x_{W1} = -3$$

$$f'''(x_2) = f'''\left(-\frac{3}{2}\right) = -\left(12\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)+27\right) \neq 0 \Rightarrow \text{Wendepunkt bei } x_{W2} = -\frac{3}{2}$$

$$f(x_{W1}) = f(-3) = -\frac{1}{2}\cdot(-3)(-3+3)^3 = 0$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{W1}(-3 \mid 0)}$$

$$f(x_{W2}) = f\left(-\frac{3}{2}\right) = -\frac{1}{2}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)\left(-\frac{3}{2}+3\right)^3 = \frac{81}{32} \approx 2,53$$

$$\Rightarrow \boxed{P_{W2}\left(-\frac{3}{2} \middle| \frac{81}{32}\right) \text{ bzw. } P_{W2}(-1,5 \mid 2,53)}$$

پنځم: محورغوڅتکي:

$$f(0) = 0 \Rightarrow \boxed{P_y(0 \mid 0)}$$

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}x(x+3)^3 = 0 \Rightarrow x_1 = 0;\ x_{2/3/4} = -3$$

صفرځايونه: $\boxed{P_{x1}(0 \mid 0)};\ \boxed{P_{x2/3/4}(-3 \mid 0)}$

شپږم: ارزښتجدول او ګراف:

ارزښتجدول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f(-4) = -2;\ f(-2) = 1;\ f(-1) = 4;\ f(0,5) \approx -10,72$

| | | $P_{W1}$ $P_{x2/3/4}$ | | $P_{W2}$ | | $P_{Max}$ | $P_{x1}$ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −4 | −3 | −2 | −1,5 | −1 | −0,75 | 0 | 0,5 |
| f (x) | −2 | 0 | 1 | 2,53 | 4 | 4,27 | 0 | −10,72 |

ګراف:




اووم: د انحنا حالت او یوغږیزوالی:
اووم: کږوالي حالت او یوغږیزوالی:
د $x0=-2$ لپاره ( کېن له $P_W$ ) $f''(-2) > 0$ له دې لاس ته راځي کېن کوږوال( ننوتی یا کونوکس) $]-\infty; 0[$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د $x0=2$ لپاره ( ښي له $P_W$ ) $f''(2) < 2$ له دې لاس ته راځي ښي کوږوالی(کونکاو یا وتلی) $]0; -\infty[$

یوغویزوالی:

د $]-\infty; 0[$ لپاره کرهیوغږیز ټیټیدونکی یا لویدونکی

د $]-\infty; 0[$ لپاره کره یوغږیز جګیدونکی

د $]2; \infty[$ لپاره کره یوغږیز ټیټیدونکی یا لویدونکی

## کږوالی:

د $x_0 = -4$ لپاره ( کیڼ له $P_{W1}$ ) $f''(-4) = -5 < 0$

لاس ته راځي ښی کوږوالی (کونوکس)$]-\infty; -3[$

د$x_0 = -2$ لپاره ( ښي له $P_{W1}$ ) $f''(-2) = 1 > 0$

لاس ته راځي کیڼ کوږالی (کونوکس) $]-3; -1,5[$

د $x_0 = -1$ لپاره ( ښی له $P_{W2}$ ) $f''(-1) = -2 < 0$

لاس ته راځي ښی کوږوالی(کونکاو) $]-1,5; -\infty[$

یوغږیزوالی:

| | |
|---|---|
| د مخامخ انتروال لپاره کره یوغږیز جګیدوکی | $\left]-\infty; -3\right[$ |
| د مخامخ انتروال لپاره کره یوغږیز جګیدونکی | $\left]-3; -\frac{3}{4}\right[$ |
| د مخامخ انتروال لپاره کره یوغږیز ټیټیدونکی | $\left]-\frac{3}{4}; \infty\right[$ |

اتم: د تعریفورشو ژۍ ټکي:

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{2}x^4 - \frac{9}{2}x^3 - \frac{27}{2}x^2 - \frac{27}{2}x\right)$$

$$= \lim_{x\to-\infty} x^4\left(-\frac{1}{2} - \frac{9}{2x} - \frac{27}{2x^2} - \frac{27}{2x^3}\right)$$

$$= \lim_{x\to-\infty} x^4 \cdot \underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{2} - \frac{9}{2x} - \frac{27}{2x^2} - \frac{27}{2x^3}\right)}_{-\frac{1}{2}} = -\frac{1}{2}\cdot\lim_{x\to-\infty} x^4 = -\infty$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = -\frac{1}{2}\cdot\lim_{x\to\infty} x^4 = -\infty$$

$$\Rightarrow \boxed{\lim_{x\to\pm\infty} f(x) = -\infty}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه۴ :

لومړی:تعریفورشو:

$$f(x) = -x^4 + \frac{9}{2}x^2 - \frac{81}{16} \qquad \boxed{D = \mathbb{R}}$$

دویم: محورسیومتري: $f(-x) = f(x)$ ځکه چې فقط جوړه(جغت) اکسپوننتونه

دریم: افراطیت:

مشتقونه یا رابیلیدني:

$$f(x) = -x^4 + \frac{9}{2}x^2 - \frac{81}{16} \Rightarrow f'(x) = -4x^3 + 9x \Rightarrow f''(x) = -12x^2 + 9 \Rightarrow f'''(x) = -24x$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -4x^3 + 9x = 0 \Leftrightarrow x\left(-4x^2 + 9\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

$$-4x^2 + 9 = 0 \Rightarrow x_{2/3} = \pm\frac{3}{2}$$

$$f''(x_1) = f''(0) = 9 > 0 \Rightarrow \text{rel Min für } x_1 = 0$$

$$f''(x_2) = f''\left(\frac{3}{2}\right) = -18 < 0 \Rightarrow \text{rel Max für } x_2 = \frac{3}{2}$$

$$f''(x_3) = f''\left(-\frac{3}{2}\right) = -18 < 0 \Rightarrow \text{rel Max für } x_3 = -\frac{3}{2}$$

$$f(x_1) = f(0) = -\frac{81}{16} \approx -5{,}06 \Rightarrow \boxed{P_{Min}\left(0 \mid -\frac{81}{16}\right) \text{ bzw. } P_{Min}(0 \mid -5{,}06)}$$

$$f(x_2) = f\left(\frac{3}{2}\right) = 0 \Rightarrow \boxed{P_{Max1}\left(\frac{3}{2} \mid 0\right) \text{ bzw. } P_{Max1}(1{,}5 \mid 0)}$$

$$f(x_3) = f\left(-\frac{3}{2}\right) = 0 \Rightarrow \boxed{P_{Max2}\left(-\frac{3}{2} \mid 0\right) \text{ bzw. } P_{Max2}(-1{,}5 \mid 0)}$$

څلورم: اوړنټکی یا د انعطاف ټکی:

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow -12x^2 + 9 = 0 \Rightarrow x_{1/2} = \pm\sqrt{\frac{3}{4}}$$

$$f'''(x_1) = f'''\left(\sqrt{\frac{3}{4}}\right) = -24 \cdot \sqrt{\frac{3}{4}} \neq 0 \Rightarrow$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په $x_{W1} = \sqrt{\frac{3}{4}} \approx 0,87$ کې اوړونټکی( انعطاف-)

$f'''(x_2) = f'''\left(-\sqrt{\frac{3}{4}}\right) = -24 \cdot \left(-\sqrt{\frac{3}{4}}\right) \neq 0$ لاس ته راځي: په $x_{W2} = -\sqrt{\frac{3}{4}} \approx -0,87$

کې اوړونټکی( انعطاف-)

$$f(x_{W1}) = f\left(\sqrt{\frac{3}{4}}\right) = -\frac{9}{4} = -2,25 \Rightarrow \boxed{P_{W1}\left(\sqrt{\frac{3}{4}} \mid -\frac{9}{4}\right) \text{ bzw. } P_{W1}(0,87 \mid -2,25)}$$

$$f(x_{W2}) = f\left(-\sqrt{\frac{3}{4}}\right) = -\frac{9}{4} = -2,25 \Rightarrow \boxed{P_{W2}\left(-\sqrt{\frac{3}{4}} \mid -\frac{9}{4}\right) \text{ bzw. } P_{W1}(-0,87 \mid -2,25)}$$

پنځم: محورغوځتکي:

$$f(0) = -\frac{81}{16} \approx -5,06 \Rightarrow \boxed{P_y\left(0 \mid -\frac{81}{16}\right) \text{ bzw. } P_y(0 \mid -5,06)}$$

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -x^4 + \frac{9}{2}x^2 - \frac{81}{16} = 0$$

تراوسه معلوم صفرځایونه $x_1 = \frac{3}{2};\ x_2 = -\frac{3}{2}$ ( افراطي ټکي وکوری)

پولینوموېش:

$$\left(-x^4 + \frac{9}{2}x^2 - \frac{81}{16}\right) : \underbrace{\left(x - \frac{3}{2}\right)\left(x + \frac{3}{2}\right)}_{x^2 - \frac{9}{4}}$$

$$\left(-x^4 + \frac{9}{2}x^2 - \frac{81}{16}\right) : \left(x^2 - \frac{9}{4}\right) = -x^2 + \frac{9}{4}$$

$$\underline{-\left(-x^4 + \frac{9}{4}x^2\right)}$$

$$\frac{9}{4}x^2 - \frac{81}{16}$$

$$-\left(\frac{9}{4}x^2 - \frac{81}{16}\right)$$

$$-x^2 + \frac{9}{4} = 0 \Leftrightarrow x^2 = \frac{9}{4}$$

$$\Rightarrow x_{3/4} = \pm\frac{3}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفرځايونه: $\boxed{P_{x1/2}\left(\frac{3}{2}\,|\,0\right)}; \boxed{P_{x3/4}\left(-\frac{3}{2}\,|\,0\right)}$

شپږم: ارزښت جدول او ګراف:

ارزښتجدول:

$f(-2) \approx -3{,}06 = f(2);\ f(-1) \approx -1{,}56 = f(1)$

| | | $P_{Max2}$ $P_{x3/4}$ | | $P_{W2}$ | $P_{Min}$ $P_y$ | $P_{W1}$ | | $P_{Max1}$ $P_{x1/2}$ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −2 | −1,5 | −1 | −0,87 | 0 | 0,87 | 1 | 1,5 | 2 |
| f (x) | −3,06 | 0 | −1,56 | −2,25 | −5,06 | −2,25 | −1,56 | 0 | −3,06 |




اووم: کږوالی يا انحنا:

اووم: کږوالي حالت او يوغږيزوالی:

د x0=-2 لپاره ( کين له $P_W$ ) f''(-2) > 0 له دې لاس ته راځي کين کوږوال( ننوتی يا کونوکس)]0; ∞ − ]

د x0=2 لپاره ( ښي له $P_W$ ) f''(2) < 2 له دې لاس ته راځي ښي کوږوالی(کونکاو يا وتلی) ]0; −∞[

يوغويزوالی:

د ]0; ∞ − ] لپاره کرهيوغږيز تيتيدونکی يا لويدونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د $]-\infty;0[$ لپاره کره یوغړیز جګیدونکی

د $]2;\infty[$ لپاره کره یوغړیز ټیټیدونکی یا لویدونکی

کږوالی:

د $x_0$ =-1 لپاره ( د $P_{W1}$ او $P_{W2}$ترمنځ) $f''(-1) = -3 < 0$

له دې لای ته راځي ښي کږوالی (وتلی یا محدب؟) $\left]-\infty;-\sqrt{\frac{3}{4}}\right[$

د $x_0 = 0$ لپاره ( د $P_{W1}$ او $P_{W2}$ترمنځ) $f''(0) = 9 > 0$

له دې لای ته راځي ښي کږوالی کیڼ کږوالی: (ننوتی؟) $\left]-\sqrt{\frac{3}{4}};\sqrt{\frac{3}{4}}\right[$

د $x_0 = 1$ لپاره ( له $P_{W1}$څخه ښی) $f''(1) = -3 < 0$

له دې لای ته راځي ښي کږوالی (وتلی یا محدب؟) $\left]\sqrt{\frac{3}{4}};\infty\right[$

| | |
|---|---|
| یوغړیزوالی:<br>د مخامخ لپاره کره یوغړیز جګیدونکی<br>د مخامخ لپاره کره یوغړیز ټیټیدونکی<br>د مخامخ لپاره کره یوغړیز جګیدونکی<br>د مخامخ لپاره کره یوغړیز ټیټیدونکی | $]-\infty;-1,5[$<br>$]-1,5;0[$<br>$]0;1,5[$<br>$]1,5;\infty[$ |

اتم: د تعریفورشو ژی ټکي:

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(-x^4+\frac{9}{2}x^2-\frac{81}{16}\right) = \lim_{x\to-\infty} x^4\left(-1+\frac{9}{2x^2}-\frac{81}{16x^4}\right)$$

$$= \lim_{x\to-\infty} x^4 \cdot \underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(-1+\frac{9}{2x^2}-\frac{81}{16x^4}\right)}_{-1} = -1\cdot \lim_{x\to-\infty} x^4 = -\infty$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = -1\cdot \lim_{x\to\infty} x^4 = -\infty$$

$$\Rightarrow \boxed{\lim_{x\to\pm\infty} f(x) = -\infty}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بيلگه:

۱ – تعريف – يا پيژندورشو:

$$f(x) = -\frac{1}{4}x^4 + x^3 \qquad \boxed{D = \mathbb{R}}$$

۲ – سيومتري: سيومتري نه شته

۳ – افراطيت-

مشتق

$$f(x) = -\frac{1}{4}x^4 + x^3 \Rightarrow f'(x) = -x^3 + 3x^2 \Rightarrow f''(x) = -3x^2 + 6x \Rightarrow f'''(x) = -6x + 6$$

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -x^3 + 3x^2 = 0 \Leftrightarrow x^2(-x + 3) = 0 \Rightarrow x_{1/2} = 0;\ x_3 = 3$$

$$f''(x_1) = f''(0) = 0 \Rightarrow$$

په $x_1 = 0$ كي په افراطي ځاى كومه ويينه يا افاده نه شته

مگر دا چې $x_{1/2} = 0$ د f‘(x) دبل صفرځاى دى د f‘(x) لپاره په $x_{1/2} = 0$ ځاى

كي د مخنخبي بدلون نه شته له دي لاس ته راځى، چې په $x_1 = 0$ كي افراطي ځايونه

نه شته

$$f''(x_3) = f''(3) = -9 < 0 \Rightarrow \text{rel Max für } x_3 = 3$$

$$f(x_3) = f(3) = \frac{27}{4} = 6{,}75 \Rightarrow \boxed{P_{Max}\left(3 \mid \frac{27}{4}\right) \text{ bzw. } P_{Max}(3 \mid 6{,}75)}$$

۴ - اوړونټكى يا انعطافټكى: (لاندې الماني: په ... كي اوړونټكى)

$$f''(x) = 0 \Leftrightarrow -3x^2 + 6x = 0 \Leftrightarrow -3x^2 + 6x = 0 \Leftrightarrow x(-3x + 6) = 0 \Rightarrow x_1 = 0;\ x_2 = 2$$

$$f'''(x_1) = f'''(0) = 6 \neq 0 \Rightarrow \text{Wendepunkt bei } x_{W1} = 0$$

$$f'''(x_2) = f'''(2) = -6 \neq 0 \Rightarrow \text{Wendepunkt bei } x_{W2} = 2$$

$$f(x_{W1}) = f(0) = 0 \Rightarrow \boxed{P_{W1}(0 \mid 0)}$$

$$f(x_{W2}) = f(2) = 4 \Rightarrow \boxed{P_{W2}(2 \mid 4)}$$

۵ – محورغوځتكي:

$$f(0) = 0 \Rightarrow \boxed{P_y(0 \mid 0)}$$

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{4}x^4 + x^3 = 0 \Leftrightarrow x^3\left(-\frac{1}{4}x + 1\right) = 0 \Rightarrow x_{1/2/3} = 0;\ x_4 = 4$$

صفرځايونه: $\boxed{P_{x1/2/3}(0 \mid 0)};\ \boxed{P_{x4}(4 \mid 0)}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ارزښتجدول او ګراف :ارزښتجدول

$f(-1) = -1,25;\ f(1) = 0,75;\ f(4,2) = -3,7$

| | | $P_{W1}$ $P_{x1/2/3}$ $P_y$ | | $P_{W2}$ | $P_{Max}$ | $P_{x4}$ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| x | −1 | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 4,2 |
| f(x) | −1,25 | 0 | 0,75 | 4 | 6,75 | 0 | −3,7 |




کږوالي حالت او یوغږیزوالی:

کږوالی:

د $x_0 = -1$ لپاره ( د $P_{W1}$ کیڼ لور ته) $f''(-1)=-9<0$ له دې لاس ته راځي: ښی کږوالی( وتلی) $]-\infty;-0[$

د $x_0 = 1$ لپاره ( د$P_{W1}$او $P_{W2}$ ترمنځ ) $f''(1)=3>0$لاس ته راځي: کیڼ کوږوالی ( ننوتی) $]0;2[$

د $x_0 = 3$ لپاره ( ښی له $P_{W2}$ ) $f''(3)=-9<0$ لاس ته راځي: ښي کږوالی( وتلی)

یوغږیزوالی: $]2;\infty[$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د مخامخ لپاره کره یوغریز جګیدونکی | $]-\infty ; 0[$ |
| د مخامخ لپاره کره یوغریز جګیدونکی | $]0 ; 3[$ |
| د مخامخ لپاره کره یوغریز ټیټیدونکی | $]3 ; \infty[$ |

اتم: د تعریفورشو ژی ټکي:

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = \lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{4}x^4 + x^3\right) = \lim_{x\to-\infty} x^4\left(-\frac{1}{4}+\frac{1}{x}\right)$$

$$= \lim_{x\to-\infty} x^4 \cdot \underbrace{\lim_{x\to-\infty}\left(-\frac{1}{4}+\frac{1}{x}\right)}_{-\frac{1}{4}} = -\frac{1}{4}\cdot \lim_{x\to-\infty} x^4 = -\infty$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = -\frac{1}{4}\cdot \lim_{x\to\infty} x^4 = -\infty$$

$$\Rightarrow \boxed{\lim_{x\to\pm\infty} f(x) = -\infty}$$

## افراطي ارزښتونه

تمرینونه د کور کار**I** :

د دریمې درجې ټول یا تام راشنل توابعو افراطي ټکي

د لاندې ټول راشنل( هوښیار) توابعو افراطي ارزښتونه مطالعه کړی او په ممکنه حالت کې یې انحرافي ټکي پیدا کړی.

اول - $f(x) = \frac{1}{4}x^3 - 3x$ دویم - $f(x) = -\frac{1}{2}x^3 + 2x^2$

دریم - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - 4x^2 + 8x$ څلورم - $f(x) = -\frac{1}{2}x^3 + \frac{1}{2}x^2 + \frac{5}{2}x + \frac{3}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پنځم - $f(x)=\frac{1}{9}x^3-\frac{1}{3}x^2-\frac{8}{3}x+\frac{26}{9}$ شپږم - $f(x)=\frac{2}{5}x^3-\frac{22}{5}x^2+14x-10$

اوم - $f(x)=\frac{1}{9}x^3-x^2+3x$ اتم- $f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{3}{2}x^2+4$

نهم - $f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{3}{2}x^2+3x-4$ لسم - $f(x)=\frac{1}{3}x^3+x^2-2x-3$

## حلونه

تمرينونه: مشتقشميرنه **I**

نتيجې او مفصل حلونه

نتيجې

اول - $P_{Max}(-2|4)$ $P_{Min}(2|-4)$

دويم - $P_{Max}\left(\frac{8}{3}\approx 2,67 \;\middle|\; \frac{128}{27}\approx 4,74\right)$ $P_{Min}(0|0)$

دريم - $P_{Max}\left(\frac{4}{3}\approx 1,33 \;\middle|\; \frac{128}{27}\approx 4,74\right)$ $P_{Min}(4|0)$

څلورم - $P_{Max}\left(\frac{5}{3}\approx 1,67 \;\middle|\; \frac{128}{27}\approx 4,74\right)$ $P_{Min}(-1|0)$

پنځم - $P_{Max}(-2|6)$ $P_{Min}(4|-6)$

شپږم - $P_{Max}\left(\frac{7}{3}\approx 2,33 \;\middle|\; \frac{512}{135}\approx 3,79\right)$ $P_{Min}(5|0)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اوم - انحرافي ټکي نه شته اتم - $P_{Max}(0|4)$ $P_{Min}(4|-4)$

نهم - انحرافي ټکي شتون نه لري.

لسم - $P_{Max}\left(-1-\sqrt{3} \mid 3{,}131\right)$ $P_{Min}\left(-1+\sqrt{3} \approx 0{,}732 \mid -3{,}797\right)$

پام: د انحرافي ټکو کې رینه وه، نو د جبشمېري سره دې شمېرنه وشي، ځکه چې پرته له دې به شمېرنه ډېر وخت ونیسي.

مفصل حلونه

اول – مفصل حل

شمیرنه:

1 – تابع مساوات د مشتق سره

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - 3x \qquad f'(x) = \frac{3}{4}x^2 - 3 \qquad f''(x) = \frac{3}{2}x$$

- د افقي یا پروت محور سره تانجنتونه:

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \underbrace{\frac{3}{4}x^2 - 3}_{\text{مربع مساوات}} = 0 \Big| \cdot \frac{4}{3} \Leftrightarrow x^2 - 4 = 0 \Big| + 4$$

$$\Leftrightarrow x^2 = 4 \Big| \sqrt{\ } \Leftrightarrow |x| = 2 \Rightarrow x_1 = 2 \qquad x_2 = -2$$

_ ازماینت چې ایا یو انحرافي ټکی مخ ته لرو:

$$f''(x_1) = f''(2) = \frac{3}{2} \cdot 2 = 3 > 0 \Rightarrow \text{rel. Min. bei } x_1 = 2$$

$$f''(x_2) = f''(-2) = \frac{3}{2} \cdot (-2) = -3 < 0 \Rightarrow \text{rel. Max. bei } x_2 = -2$$

- د انحرافي ارزښتونو شمېرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x_1) = f(2) = \frac{1}{4}2^3 - 3\cdot 2 = \frac{8}{4} - 6 = 2 - 6 = -4$$

$$f(x_2) = f(-2) = \frac{1}{4}(-2)^3 - 3\cdot(-2) = -\frac{8}{4} + 6 = -2 + 6 = 4$$

- انحرافي ټکي:

$$P_{Min}(2| -4) \qquad P_{Max}(-2| 4)$$

ګرافونه:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - 3x \qquad f'(x) = \frac{3}{4}x^2 - 3 \qquad f''(x) = \frac{3}{2}x$$




دویم – مفصل حل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

شمیرنه:

1 – تابع مساوات د مشتق سره

$$f(x) = -\frac{1}{2}x^3 + 2x^2 \qquad f'(x) = -\frac{3}{2}x^2 + 4x \qquad f''(x) = -3x + 4$$

2 - د پروت یا افقي تانجنت ځایونه:

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \underbrace{-\frac{3}{2}x^2 + 4x}_{\text{quadratische Gleichung}} = 0 \Leftrightarrow x\left(-\frac{3}{2}x + 4\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

$$-\frac{3}{2}x + 4 = 0 | \cdot (-1) \Leftrightarrow \frac{3}{2}x - 4 = 0 | + 4 \Leftrightarrow \frac{3}{2}x = 4 | \cdot \frac{2}{3} \Leftrightarrow x = \frac{8}{3} \Rightarrow \quad x_2 = \frac{8}{3}$$

3 - ازمايښت، چې ايا يو انحرافي ټکی مخ ته لرو:

$$f''(x_1) = f''(0) = -3 \cdot 0 + 4 = 4 > 0 \Rightarrow \text{rel. Min. bei } x_1 = 0$$

$$f''(x_2) = f''\left(\frac{8}{3}\right) = -3 \cdot \frac{8}{3} + 4 = -8 + 4 = -4 < 0 \Rightarrow \text{rel. Max. bei } x_2 = \frac{8}{3}$$

4 - د انحرافي ارزښتونو شمېرنه

$$f(x_1) = f(0) = -\frac{1}{2} \cdot 0^3 + 2 \cdot 0^2 = 0$$

$$f(x_2) = f\left(\frac{8}{3}\right) = -\frac{1}{2} \cdot \left(\frac{8}{3}\right)^3 + 2 \cdot \left(\frac{8}{3}\right)^2 = -\frac{1}{2} \cdot \frac{512}{27} + 2 \cdot \frac{64}{9} = -\frac{256}{27} + \frac{384}{27} = \frac{128}{27}$$

5 – انحرافي ټکي

$$\underline{\underline{P_{Min}(0|0)}} \qquad \underline{\underline{P_{Max}\left(\frac{8}{3} \approx 2,67 \;\middle|\; \frac{128}{27} \approx 4,74\right)}}$$

: گرافونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f(x) = -\frac{1}{2}x^3 + 2x^2 \qquad f'(x) = -\frac{3}{2}x^2 + 4x \qquad f''(x) = -3x + 4$$




دریم - مفصل حل:شمیرنه:

1 – تابع مساوات د مشتق سره

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - 4x^2 + 8x \qquad f'(x) = \frac{3}{2}x^2 - 8x + 8 \qquad f''(x) = 3x - 8$$

2 - د پورت یا افقي تانجنت ځایونه:

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \underbrace{\frac{3}{2}x^2 - 8x + 8}_{\text{quadratische Gleichung}} = 0 \,|\cdot \frac{2}{3} \Leftrightarrow x^2 - \frac{16}{3}x + \frac{16}{3} = 0$$

$$p = -\frac{16}{3} \quad q = \frac{16}{3} \quad D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = \frac{64}{9} - \frac{16}{3} = \frac{64}{9} - \frac{48}{9} = \frac{16}{9}$$

$$\Rightarrow \sqrt{D} = \sqrt{\frac{16}{9}} = \frac{4}{3} \Rightarrow x_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} \quad \begin{vmatrix} x_1 = \frac{8}{3} + \frac{4}{3} = \frac{12}{3} = 4 \\ x_2 = \frac{8}{3} - \frac{4}{3} = \frac{4}{3} \end{vmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 - ازمایبنت، چې ایا یو انحرافي ټکی مخ ته لرو:

$$f''(x_1) = f''(4) = 3\cdot 4 - 8 = 4 > 0 \Rightarrow \text{rel. Min. bei } x_1 = 4$$

